پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۶/۲۸

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

شپږاویایمه برخه

مرګیه لري رانه ګرځه
ژبه مې مه تړه وطن پرې یادومه

زما د سرو زرو وطنه
تر بڼې سپک شوې، د بې قدرو په لاسونه

یوه دې نه ده، دوې دې نه دي
زه دې په کومه خطاء خاورې واړومه

د دنیا خلک ورته ګورې
پښتانه خپله، خپله خونه ورانوینه

په دې برخه کې هم یو څو نوې لنډۍ:

چې څه دې زده وو، آ دې وکړل
د نورو بدو به دې وس نه رسېدنه

مرګیه لري رانه ګرځه
ژبه مې مه تړه وطن پرې یادومه

زما د سرو زرو وطنه
تر بڼې سپک شوې، د بې قدرو په لاسونه

یوه دې نه ده، دوې دې نه دي
زه دې په کومه خطاء خاورې واړومه

د کوټې تیر راباندې پروت وای
راباندې نه وای د موزې سړې لاسونه

په جوارګر لالې مې سر دی
په لک مې اخلې په روپۍ مې خرڅوینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دنیا خلک ورته ګوري
پښتانه خپله، خپله خونه ورانوینه

که څوک راځي دروازې خلاصې
که را نه ځي تر شا اوبه پسې پاشمه

خولې ته مې سوړ آسوېلی راغی
زه مئین نه یم، د معدې تکلیف لرمه

ښېرې کوم آمین پرې وکړئ
څوک چې وطن تباه کوي تباه دې شینه

که مې لالی جوارګر نه وای
ما به پردو کوڅو کې نه غوښتل خیرونه

پردی وطن دی، ماخوستن دی
تیرو یادونو نه سندرې جوړومه

کور مې د خپلې مینې وران دی
د چا چې ورانې مینې ګورم زړۀ مې چوینۀ

په یارۍ زوړ سړی ځوانېږي
زه دلالي په یارۍ پېغله زړه شومه

لالی دې خپل انتخاب وکړي
تاوان پرې نه یم چې منت ورته کومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ